مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۴/۰۶/۲۴

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوڅلویښتمه برخه)



(په غزه کې د اسراییلو وحشیانه بمبارۍ او بې دفاع ښځې او ماشومان)

**د فلسطین په موعوده ځمکه کې اوسیدل، مشروط پر اطاعت دي (۷)**

**سلیمان د اسراییلو پیغمبر او پاچا، سرغړونې او د یهوه خدای عدالت**

د اسراییلو پاچا او پیغمبر سلیمان د داؤد زوی ؤ، نوموړی لکه د خپل پلار په څېر، سوچه اسراییلی نه ؤ، هغه له بتشبع ښځه زیږیدلی ؤ چې بتشبع د حیتانو له قوم ښځه وه.
«بتشبع بل ځل له داؤد څخه دوه‌ځانه شوه او زوی یې وزیږاوه چې نوم یې سلیمان پرې کېښود. سلیمان پر یهوه خدای باندې ګران ؤ نو ځکه یې (ناتان) نبي ولېږه چې سلیمان ته د (یدیدیا) یاني (د یهوه خدای محبوب) ستاینوم ورکړي،» (د سموییل دویم کتاب:۲۴/۱۲-۲۵)
د داؤد له مرګ وروسته سلیمان د هغه ځای‌ناستی شو، د اسراییلو تخت او تاج او د خپل پلار حرمسرای یې خپل کړ او خپل میرنی ورور (ادونیا) یې په دې تور وواژه چې هغه غوښتل د خپل پلار داؤد له یوې مینځې (ابیشګ شونمي) سره واده وکړي چې له دې لارې د خپل پلار، داؤد پاچاهۍ ته قانوني لاره پیدا کړي.[1]
سلیمان د اسراییلو د پاچاهانو په ډله کې یو هوښیار او حکیم پاچا ؤ، هغه وکړای شول له خپلو ګاوندیانو او مصریانو سره په سوله کې ژوند وکړي، د سلیمان پلار داؤد ته لا له وړاندې یهوه خدای ویلې وو چې «زه به تا ته داسې زوی

[1]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۲/۲۲تر۲۵پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

درکړم چي سوله غوښتونکی وي، زه به د هغه د ټولو دښمنانو شر د هغه له سره کم کړم او د هغه نوم به سلیمان، ياني (سولهمل) وي چي د ده د سلطنت په موده کي به، هغه د اسراییلو قوم ته سوله او آرامي ورو‌ښئي.» (د تاریخونو لومړی کتاب:۹/۲۲)

د تورات دري ټوکه کتابونه هر یو: (متلونه)، (جامعه)[2] او یوه شعري ټولګه چي (د سلیمان غزلي) یې بولي، پر سلیمان پوري اړه لري، د متلونو او جامعه کتابونه، د نورو ډېرو مسایلو تر څنګ پر حکمت، پوهي او ناپوهی باندې څرخي، د څېړونکو په اند د جامعي کتاب فلسفي اړخونه هم لري او د سلیمان د غزلو ټولګه (لکه څرنګه چي له نوم یې څرګندیږي) سرتر پایه د عاشق او معشوق ترمنځ عاشقانه خبري دي چي یهودان یې د اسراییلو قوم او یهوه خدای ترمنځ روحاني انځور او اړیکه بولي خو د اسراییلو دا ډول تفسیر هېڅ یو سالم عقل نه شي منلی.[3] (چي وروسته به د بېلګي په توګه څو شعرونه وړاندې کړل شي.)

لکه وړاندې چي وویل شول سلیمان ډېر پوه او حکیم پاچا ؤ، سلیمان د متلونو په کتاب کي د حکمت او جهالت په هکله په زړه پوري ښووني کړي دي چي څو بېلګي یې په لاندې ډول وړاندې کوو:
**«نېکمرغه او مبارک دی هغه څوک چي حکمت او پوهه ترلاسه کوي،** هغه له هغه چا نېکمرغه دی چي سره او سپین زر یې موندلي وي، د حکمت ارزښت له جواهراتو ډېر دی، نه شو کولای هغه له هر ډول خزانې سره پرتله کړو، حکمت انسان ته شتمني، درناوی، اوږد عمر او ښه ژوند وربښي، حکمت ستا ژوند له خوښۍ او سلامتۍ ډکوي. نېکمرغه او مبارک دی هغه چي حکمت ترلاسه کړي ځکه چي حکمت د ژوند د وني په څېر دی.
خدای په خپل حکمت سره د ځمکي بنسټ کېښود او په خپل عقل یې آسمان ودراوه، په خپله پوهه یې د ځمکي پر مخ چیني روان کړي، له آسمانه یې پر ځمکه شوګیري واورولي.
**زویه! حکمت او پوهه وساته، هېڅکله هغه له خپل نظره مه غورځوه،** هغه به تا ته عزتمنژوند درکړي او ته به په امن کي اوسي، په هغه لاره چي درومئ هېڅکله به ونه ښوییږي، په آرام فکر او پرته له وېرې به ویده کېږې، له هغي بلا به ونه ډار شي چي پر بدعملو باندې په ناڅاپي توګه نازلیږي، یهوه خدای به تا وساتي او د بلا په لومه (دام) کي به دې ونه نښلوي.» (د متلونو کتاب:۱۳/۳تر۲۶پوري)
**«بېحکمته زړورتیا او مېړانه بېګټي ده** او بیره کول د تېروتني سبب کیږي، انسان په خپل حماقت سره خپل ژوند تباه کوي، بیا یې پره په خدای پوري وراچوي.» (هماغه کتاب:۱۹/۲-۳)
**«څوک چي حکمت او ادب بېارزښته وشمېري احمق دی.** ای ځوانه! د پلار نصیحت واوره، د خپلي مور له ښوونو مخ مه اړوه، د دوی خبري به د تاج او جواهراتو په څېر ستا ژوند ښکلی کړي.» (هماغه کتاب:۷/۱تر۹پوري)
سلیمان ناپوهه او احمق کسان له سودرو هم بد بللي هغه وایي:
«له هغي ننګي یږې (خرسي) سره چي بچیان یې تري وړي وي مخامخ کیدل، **له هغه ناپوه کس څخه ښه دي چي حماقت نیولی وي.»** (هماغه کتاب:۱۶/۱۲)
**«متروکه د آس لپاره او ترسیری د خره لپاره دی او لرګی د احمق انسان د سملو لپاره.** څوک چي احمقانه پوښتني ته ځواب ورکړي، د هغه پوښتونکي په څېر احمق دی، باید د احمقانو پوښتني ته احمقانه ځواب ورکړای شي، تر څو هغه چي پوښتنه یې کړې ده، ونه وایي چي عاقل دی.»
(هماغه کتاب:۳/۲۶تر۵پوري)

---

[2]: په پښتو کي د (جامعه) لغوي ژباړه ټولنه ده چي د جامعه کتاب سره اړخ نه لګوي او مانا یې سمه نه راځي، د جامعه کتاب ته په عبري ژبه کي: מגילת קהלת کوهِلِت وایي، له بده مرغه چي ګوګل ژباړن په پښتو ونه ژباړلی شوه، اړ یو په هماغه فارسي ژباړه (جامعه) ولیکو.
[3]: ډېر کلونه وړاندې زموږ په کلي کي یو ساده خو باسواده سپینږیری د ګډوال په توګه اوسیده، یوه ورځ یې زموږ د کلي ځوانانو ته ویلي وو چي د رحمان بابا ټول شعرونه د خدای تعالی د ثنا او صفاتو په اړه ویل شوي دي. هغه وو چي د کلي دوه تنه ځوانان راغلل په اړه یې مالومات وغوښتل. ما د رحمان بابا له دیوان څخه یو شعر ورته ولیکه چي په هغه کي د تورو سترګو، سرو شونډو، تورو زلفو او داسي نورو عاشقانه یادوني شوي وي، ومي ویل چي اوس ورشئ ورته ووایئ چي خدای تعال د انسان غوندې غړي لري چي رحمان بابا یې ستاینه کړې ده؟. کله چي سپینږیری ماما پوه شو چي دا شعر ما ورکړی نو ویې ویل: ای خدایه! یا خو دې زه نه پوهیدی او یا دې دغه کلي زما په شان پوهه درلودلی، دا یو سړی (منظور یې زه لیکونکی وم) چي ما هوښیار باله دا هم بېعقل شو!
نو د یهودو تفسیر د سلیمان د غزلو په اړه د هماغه سپینږیري ماما په څېر دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

سلیمان د خپلې پاچاهۍ په لومړیو کې، د یهوه خدای لپاره زر غواګانې او میږې قرباني کړې چې په هغه شپه یهوه خدای سلیمان ته په خوب کې ورغی وویل: له ما څه غواړئ؟
سلیمان وویل:«... ای زما خدایه! تا زه د خپل پلار داؤد پر ځای پاچاهۍ ته ورسولم، په داسې حال کې چې زه خپل ځان د قوم د رهبرۍ لپاره ډېر کم او بې‌تجربې وینم. اوس چې ستا د دغه بې‌شمېره غورځګړي قوم رهبري زما پر غاړه ده، **نو حکمت راکړه چې وکولی شم ښه او بد وپېژنم او په عدالت سره پر خلکو حکومت وکړم،** که نه نو څرنګه کولی شم چې دغه لوی قوم اداره کړم؟
یهوه خدای د سلیمان غوښتنه ډېره خوښه کړه او خوشاله شو چې سلیمان له هغه څخه د حکمت غوښتنه کړې ده، نو سلیمان ته یې وویل: تا چې د حکمت غوښتنه وکړه، ترڅو په عدالت سره حکومت وکړای شې. اوږد عمر، ډېره شتمني یا د خپلو دښمنانو مرګ دې له ما ونه غوښت نو تا چې څه غوښتي دي درکوم یې، **زه تا ته پوهه او حکمت دربښم** چې تر اوسه مې بل چا ته نه دي ورکړي او نه به یې چا ته ورکړم او هغه څه چې تا یې غوښتنه نه ده کړې هم درکوم، شتمني او ویاړ، داسې ویاړ چې ستا په ژوند به بل هېڅ کوم پاچا ستا تر پښو پورې هم ونه رسېږي.
**که د خپل پلار داؤد په څېر، له ما اطاعت وکړې او زما اوامر ومنې، نو بیا به تا ته اوږد عمر هم وبښم.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۳/۷تر۱۴پورې)

لکه څه ډول چې سلیمان ته یهوه خدای لوی حکمت ورپه برخه کړ، د هغه پوهه له ختیځو پوهانو، مصریانو او ځایي پوهانو څخه زیاته وه، سلیمان د نړۍ[4] په ټولو هېوادونو کې مشهور شو. سلیمان **«درې زره متلونه وویل او یو زر پنځه سوه سندرې (غزل) یې ولیکل.** سلیمان د حیواناتو، الوتونکو مرغانو، خوځنده ژویو او کبانو په اړه پوره مالومات درلودل. هغه ټولې ونې، بوټي، وابنه له سروې ونې نیولې تر کوچینو بوټو (زوفا) چې د دېوالونو په سوریو کې شنه کیږي، پېژندل او په اړه یې خبرې کولې. د ټولې نړۍ پاچاهان چې د هغه له حکمته خبر شوي وو، خپل استازي یې د هغه دربار ته استول چې د ده له حکمته برخمن شي.»[5]
«سلیمان د ټولې نړۍ له پاچاهانو څخه ډېر شتمن او پوه ؤ، د نړۍ ټول خلک د هغه د لیدو په ارمان وو چې د ده هغه حکمت وګوري چې یهوه خدای هغه ته ورکړی ؤ.» (هماغه کتاب:۱۰/۲۴)
د سلیمان له حکمتونو څخه یو هغه ؤ چې یوه ورځ دوه تنو رنډیو ښځو خپله دعوا سلیمان پاچا ته وړاندې کړه، وایي چې دواړه ښځې په یو کور کې اوسیدلې او دواړو ښځو هممهاله دوه هلکان وزیږول چې یوې ښځې شپې مهال خپل زوی په خوب کې لاندې کړ او مړ شو، نو دغې ښځې خپل مړ زوی له هغې بلې ښځې سره، په داسې حال کې بدل کړ چې هغه ویده وه، لنډه دا چې دواړو ښځو د سلیمان پاچا پر وړاندې لفظي جګړه پیل کړه، هغه وو چې پاچا وویل:«تاسو پرېږدئ، زه به اوس وګورم چې څوک په حقه دي. تاسې دواړه وایئ چې ژوندی ماشوم زموږ دی او دواړه وایئ چې مړ ماشوم زموږ نه دی.
هغه وو چې پاچا وویل: یوه توره راوړئ. نو یوه توره یې راوړه او سلیمان امر وکړ چې ژوندی ماشوم دوه ځایه کړئ او هرې یوې ته نیم، نیم ماشوم ورکړئ!
دا مهال هغه ښځه چې په رښتیا سره د هغې ماشوم مور وه، پر خپل ماشوم یې زړه وسوځېد او پاچا ته یې زارۍ وکړې ویې ویل: ای پاچا ماشوم مه وژنئ، هغه دغې ښځې ته ورکړئ.
هغې بلې ښځې وویل: نه، پرېږده چې هغه دوه ځایه کړي چې نه ستا شي او نه زما.
**پاچا وویل: ماشوم مه وژنئ، هغه دغې ښځې ته ورکړئ چې نه غواړي ماشوم ووژل شي ځکه چې همدغه ښځه د ماشوم مور ده.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۳/۲۳تر۲۷پورې)

لکه څرنګه چې وړاندې یادونه شوې ده چې د فلسطین پر ځمکه د اسراییلو او د هغوی د پاچاهانو او مشرانو اوسیدل مشروط د دوی پر اطاعت وو چې سلیمان پاچا هم پر دا ډول اطاعت مکلف ؤ. یهوه خدای داؤد ته ویلې وو چې که ستا ځوځات زما اطاعت وکړي نو پر اسراییلو به د تل لپاره یو تن پاچاهي وکړي خو سربېره پر دې، یهوه خدای د سلیمان د پاچاهۍ پر مهال هغه ته څو ځله ویلي وو چې که د خپل پلار په څېر دې اطاعت وکړ نو زه به درسره یم او مرسته به کوم:«که تا د خپل پلار داؤد په څېر رښتینې چلند وکړ، زما منونکی او زما احکام پلي کړې نو لکه څه ډول چې ما

---

[4]: هغه مهال اسراییلو، د عربو جزیره، اردن، لبنان، سوریه، پارس، اوسنی عراق، مصر، د مدیترانې سیند او نورو نږدې سیمو ته ټوله نړۍ ویل کیده.
[5]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۴/۳۲تر۳۴پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ستا پلار داؤد ته ویلي وو:(ستا له نسله به یو تن پر اسراییلو پاچاهي کوي.) **خو که تا او ستا زامنو زما له ښوونو چې تاسو ته مي درکړي دي سرکښی وکړي، له ما مخ واړوي او بتپرستیو ته مخه کړي، نو هغه مهال به بني اسراییل له دغي ځمکي وشړم چې دوی ته مي ورښنلي ده.»** (هماغه کتاب: ۴/۹تر۷پوری)

له هغي مودې چي د اسراییلو قوم له مصر څخه بهر شوی ؤ، د اسراییلو ځانګړی خدای یهوه له خپل قوم اسراییلو سره په یوه کیږدی کي اوسیده خو له څلور سوه اتیا کلونو[6] وروسته، سلیمان د یهوه خدای لپاره د معبد چي (د یهوه خدای کور یي بولي) پر جوړولو پیل وکړ، ترڅو د اسراییلو د واکمنانو په څیر د دوی خدای یهوه له کوچیتوب حالته ښاري حالت ته راولي.

د یهوه خدای د کور د جوړولو پر مهال یهوه سلیمان ته وویل:«که چیري هغه څه عملي کړئ چي زه یي درته وایم، زما له ټولو احکامو او اوامرو اطاعت وکړئ، نو زه به هغه څه ترسره کړم، لکه څرنګه چي ستا پلار داؤد ته مي لاس (قول) ورکړی دی او د اسراییلو قوم په منځ کي به په دي کور [معبد] کي استوګن شم او هیڅکله به هغه پرېنږدم.» (هماغه کتاب:۶/۱۲-۱۳)
سلیمان د یهوه خدای لپاره د اورشلیم په ښار کي کور (معبد) جوړ کړ او د معبد د ودانی له جوړولو وروسته د معبد په هغه ځانګړي ځای کي چي (قدس‌الاقداس) نومیده او د تورات صندوق په کي ځای‌پرځای شوی ؤ، سلیمان د پرښتو دوه لویي مجسمي د ښونه (زیتون) له لرګیو جوړې او هلته یي ځای‌پرځای کړې[7] چي دغه مجسمي د بتانو د جوړلو او لمانځلو لومړی نښي بللی شو.

اسراییلو په کنعان او فلسطین کي له میشتو قومونو سره اوږده کلونه په دښمنی کي تېر کړي وو خو د سلیمان د پاچاهی پر مهال دواړو خواوو په سوله کي ژوند کړی دی چي د دوی تر منځ د سولي د ټینګښت یو عامل د سلیمان لخوا له فلسطین میشتو او د مصر له فرعونیانو سره د خپښی اړیکي وي خو یهودي سرچیني د سلیمان دا ډول خپښی د هغه د بتپرستیو عوامل بولي وایي چي سلیمان خپلو دغو بتپرستو ښځو بتلمانځلو ته اړ کړ. سلیمان پاچا په فلسطین کي د حیتیانو د قوم خوربي او هغوی یي ماماګان وو، طبیعي ده چي هغه به په فلسطین کي د حیتیانو او نورو میشتو قومونو تر اغېز لاندي راغلی وي، د مصر د فرعون پر لور سربېره، سلیمان په فلسطین کي د موابیانو، عمونیانو، ادومیانو، صیدونیانو او حیتیانو له قومونو څخه د ځای لپاره ښځي واده کړي چي دا د یهوه خدای اطاعت خلاف عمل ؤ، هغه په خپل حرمسرای کي اووه سوه ښځي او دري سوه مینځي ساتلي وي، سلیمان د دغو بتپرستو ښځو لخوا ورو، ورو د بتانو د لمانځلو پر لور وخوځید او کله چي سپین‌ږیری شو، د بتپرستو قومونو د بتانو پر عبادت یي پیل وکړ او د بتانو لپاره یي بتتونونه هم جوړ کړل.[8]

سره له دي چي سلیمان د خپل پلار داؤد او نورو اسراییلو په څیر زنا نه خوښوله او د زنا نه کولو او د زنا د ناوړه عواقبو په اړه یي ډېري ګټوری ښووني هم کړي دي خو بیا هم سلیمان په خپلو غزلو کي د ښځو په هکله غلیظي غزلي هم ویلي دي چي د سلیمان له غزلو ښکاري چي هغه له ښځو سره د زړه‌تراؤ درلود چي د بېلګي په توګه د سلیمان دوه غزل لیکو:

*«ای زما محبوبي، ای زما ناوي، ستا مینه څومره خوندوره ده!*
*ستا مینه له شرابو هم په زړه‌پوري او د ټولو عطرونو له بویونو خوشبویه ده*
*ستا له شونډو ګبینه څاڅي، ستا د ژبي لاندي شیدي او ګبینه پټ دي*
*ستا د کالیو ښکلی بوی، د لبنان د ونو په څیر دی.»*[9]
*«ای زما محبوبي! ته څومره ښکلي یي، ته څومره خوږه او په زړه پوري یي*
*د خجوري (خرما) وني غوندي دنګه یي، ستا تیونه د خجوري د ګونګي په څیر دي*
*له ځان سره مي وویل: د خجوري دغي وني ته ورخیږم، ښاخونه به یي ونیسم*

---

[6]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۶/۱.
[7]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۶/۲۳.
[8]: د ډېرو مالوماتو لپاره ولولي: د لیکنو ۲۳مه برخه، د یهودو بت‌پرستی ۲ پړاؤ.
[9]: د سلیمان غزلي:۴/۱۰-۱۱.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

*ستا تيونه د انګورو د ګونګي په څېر دي او ستا ساه د مڼې غوندې په زړه پورې بوی لري*
*ستا ښکلول له شرابو هم خوندور دي.»*[10]

سليمان د خپل پلار داؤد په څېر څلوېښت کاله پر اسراييلو پاچاهي وکړه او وروسته له هغې مړ شو او په اورشليم ښار کې يې ښخ کړ.
د سليمان د پاچاهۍ پر مهال يهوه خدای سليمان ته ځان ورښکاره کړ او هغه يې د بتانو له لمانځلو منع کړ خو هغه د يهوه خبره ونه منله او خپلو بتلمانځلو ته يې دوام ورکړ. د اسراييلو د سرچينو پر بنسټ ويلی شو چې **سليمان د بتپرستۍ په حالت کې مړ شو** چې له امله يې د سليمان حکمت او پوهه هم تر سوال لاندې راځي.
وړاندې له هغې چې سليمان ته يهوه خدای حکمت او پوهه ورکړي، هغه لا له وړاندې هم هوښيا سړی ؤ، په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې کله داؤد سليمان ته د خپلو دوو تنو مخالفينو د وژلو په اړه دنده سپارې، نو داؤد د سليمان پوهه هم يادوي وايي:«ته يو پوه سړی يې، ته پوهېږې چې څه وکړې چې هغه ووژل شي.»[11]
له بده مرغه هغه حکمت چې يهوه خدای سليمان ته ورکړی ؤ او يا هغه له آره د حکمت او پوهې څښتن ؤ، په پای کې سليمان له لاسه ورکړ، که له سليمان سره هغه حکمت تر پايه پاتې وای نو سليمان به هېڅکله د بتانو لمانځلو ته نه وه مخه کړې او د بتپرستۍ په حالت کې به نه وای مړ شوی.
«سره له دې چې يهوه خدای دوه ځلې سليمان ته ورڅرګند شو او هغه يې د بتانو له عبادت څخه منع کړ خو سليمان د يهوه خدای له امره سرغړونه وکړه او له هغه وګرځېد، نو يهوه خدایورباندې په قهر شو ويې ويل: تا چې له ما سره کړې ژمنه ماته کړه او زما له امر دې سرغړونه وکړه، زه هم ستا څخه سلطنت اخلم او ستا د لاس لاندې يو کس ته يې سپارم **خو ستا د پلار، داؤد په خاطر دا کار، ستا د سلطنت پر مهال نه کوم**، بلکې ستا د زوی د سلطنت پر مهال يې ترسره کوم. د خپل خدمتکوونکي داؤد او د خپل غوره کړي ښار اورشليم په خاطر اجازه ورکوم چې يوازې ستا زوی د اسراييلو له دولسو قبيلو څخه پر يوه قبيله سلطنت وکړي.» (د پاچاهانو لومړی کتاب:۱۱/۹تر۱۳پورې)
بله دا چې لکه څه ډول چې يهوه خدای سليمان ته په ډاګه ويلي وو چې «که تا او ستا زامنو زما له ښوونو چې تاسو ته مې درکړي دي سرکښي وکړي، له ما مخ واړوئ او بتپرستۍ ته مخه کړئ، نو هغه مهال به بني اسراييل له دغې ځمکې وشړم چې دوی ته مې وربښلې ده.»[12]
خو يهوه خدای سليمان ته هېڅ ډول سزا ورنه کړه، نه يې سلطنت ترې واخيست، نه يې له موعودې ځمکې وشاړه او نه يې له کومې ناروغۍ يا کومې بلا سره مخ کړ او د عمر تر پايه يې د بتانو لمانځلو ته داوم ورکړ، په آرامۍ سره يې پاچاهي وکړه، په داسې حال کې چې يهوه خدای د هغه بتلمانځنې ليدلې.
يهوه خدای پخوا په ټينګه ويلي وو چې د ناطاعتۍ له امله به سزا ورکوي خو کله چې د سزا ورکول وخت راغی نو يهوه پلمه وکړه چې سليمان ته د هغه د پلار داؤد په خاطر سزا نه ورکوي.
يهوه خدای داؤد او نه د هغه زوی سليمان ته د هغوی د ناطاعتيو له امله سزاګانې ورنه کړې، داسې ښکاري چې د اسراييلو قومي خدای يهوه، زوروړو ته سزا نه شي ورکولی او يا دا چې يهوه د خپل غوره کړي قوم په څېر سرچپه کړنې ترسره کوي.
هر څه چې وي هغه به وي خو موږ ته يوازې د قرآن کريم مالومات د باور وړ دي چې د کتاب په پای کې به د قرآن حکيم شواهد او د اسراييلو پر ټولو خرافاتو مالومات وړاندې کړو.

نېټه:۱۴۰۴/۴/۴ل. ل
**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اخڅر نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.

---

[10]: د سليمان غزلې:۶/۷تر۹پورې.
[11]: د پاچاهانو لومړی کتاب:۲/۶.
[12]:د پاچاهانو لومړی کتاب: ۹/۶-۷.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ